امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

هفته نامه مدیریت حوادث

۱ الی ۶ جدی ۱۴۰۳

شماره هشتاد و هشتم

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامی هوساینې موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه

محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، د اسلامی هوساینې موسسې له رئیس محمد ذوالقرنین عباس او د هغه له مل پلاوی سره د ۱۴۴۶ کال د جمادی الثانی ۲۰ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې ناسته کې ښاغلی ترابي صاحب د اسلامی هوساینې موسسې فعالیتونه اغېزمن وبلل او څرګنده یې کړه چې د نږدې او ګډو همکاریو له لارې کولای شو خلکو ته غوره خدمات وړاندې کړو...

ادامه در صفحه۲

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د بشری مرستو ټولنیزې موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي، د بشری مرستو ټولنیزې موسسې د بیړنیو او بشری مرستو مسوول نصرالله شینواری سره د ۱۴۴۶ کال د جمادی الثانی ۲۰ نیټه په خپل کاری دفتر ...

ادامه در صفحه۲

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په پغمان ولسوالۍ کې ۲۰۷ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خپلو تېرو مرستو په دوام د پغمان ولسوالۍ ۲۰۷ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې...

ادامه در صفحه۳

کتاب آسیب‌شناسی در برابر حوادث طبیعی ولایت پروان چاپ و به نشر رسید

انتشارات کتب بیهقی به تازه‌گی کتاب آسیب‌شناسی در برابر حوادث طبیعی ولایت پروان را که به قلم محترم انجنیر جلال‌الدین جمالی، کارشناس وقایه و کاهش خطرات و اثرات حوادث این اداره تدوین...

ادامه در صفحه ۳

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د اسلامی هوساینې موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه

محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست، د اسلامی هوساینې موسسې له رئیس محمد ذوالقرنین عباس او د هغه له مل پلاوی سره د ۱۴۴۶ کال د جمادی الثانی ۲۰ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې ناسته کې ښاغلی ترابی صاحب د اسلامی هوساینې موسسې فعالیتونه اغیزمن وبلل او څرګنده یې کړه چې د نړدې او ګډو همکاریو له لارې کولای شو خلکو ته غوره خدمات وړاندې کړو.

په ورته وخت کې، محمد ذوالقرنین عباس، د اسلامی هوساینې موسسې رئیس، د دې اداري سره د همکارۍ له امله خوښی وښوده او زیاته یې کړه چې په غور ولایت کې زموږ مخکینې پروژه په بریالیتوب سره پلې شوې ده. نوموړی د اوسنی پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې دا پروژه د ژمی د سړې هوا له امله د زیانمنو کسانو لپاره د خوراکی توکو پیرلو په موخه د نغدی مرستې په توګه په غور ولایت کې ترسره کېږی.

د یادونې وړ ده چې د دې تفاهم‌نامې له مخې، د ۱۱۸،۸۰۸ ډالرو په مجموعی ارزښت د غور ولایت په دولینه ولسوالۍ کې ۱۱۵۲ زیانمنو کورنیو ته د ژمی لپاره د خوراکی توکو برابرولو په موخه نغدی مرستې ویشل کېږی، چې هرې کورنۍ ته به ۸۲.۷ ډالره یا د هغه معادل افغانۍ ورکړل شی.

د یادونې ده چې له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او یادې موسسې ترمنځ دا څلورمه ګډه تفاهم‌نامه ده چې لاسلیک شوه.

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د بشری مرستو ټولنیزې موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د بشری مرستو ټولنیزې موسسې د بیړنیو او بشری مرستو مسوول نصرالله شینواری سره د ۱۴۴۶ کال د جمادی الثانی ۲۰ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې ناسته کې ښاغلی ترابی صاحب یاده موسسه وهڅوله چې دغه پروژه په چټکۍ سره د پلی کولو په برخه کې هڅې وکړی ځکه چې د ژمی موسم په جریان کې دی او ژمنۍ مرستې باید په خپل وخت مستحقو کسانو ته ورسول شی.

همدارنګه، د یادې موسسې د بیړنیو او بشری مرستو مسوول نصرالله شینواری، د خپلې موسسې په اړه معلومات وړاندې کړل او څرګنده یې کړه چې موږ په بشری چارو، د اوبو په برخه کې او د پرورش ځایونو په برخه کې کار کوو او له دې اداري سره په بشری چارو کې د همکارۍ لیوالتیا لرو.

د یادونې وړ ده چې د دې تفاهم‌نامې له مخې، یاده موسسه به د کندز ولایت په دشت ارچی ولسوالۍ کې د ژمی له سړې هوا سره مخ ۵۳ زیانمنو کورنیو ته د ۵۳۰۰ ډالرو په مجموعی ارزښت مرستې وویشی، چې هرې کورنۍ ته به د ۵۷ ډالرو په ارزښت دوه کمپلې یو کسیزه، یوه بخارۍ د ټولو اړینو وسایلو سره او ۳۰ کیلوګرامه د ډبرې سکاره ورکړی کېږی.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په پغمان ولسوالۍ کې ۲۰۷ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د خپلو تېرو مرستو په دوام د پغمان ولسوالۍ ۲۰۷ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

د یادونې وړ ده چې له دې ۲۰۷ کورنیو څخه ۱۵۷ کورنۍ د طبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې، او پاتې ۵۰ کورنۍ اړمنې وې چې دوی ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشل شوې.

په دې پروسه کې هرې کورنۍ ته ۲۵ کیلو وریجې، یو روغتیایي کېټ چې ۱۴ قلمه توکي پکې شامل وو، یوه تخته روجایي، یو دانه پتلون، یوه جوړه د ښځو جامې، یوه جوړه د ماشومانو بوټونه او یوه د ژمي البسه چې ۱۶ قلمه توکي پکې شامل وو، یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شول.

په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو د دې مرستو له امله مننه وکړه او د خدمتګارو مسئولینو لپاره یې د خیر دعا وکړه.

کتاب آسیب‌شناسی در برابر حوادث طبیعی ولایت پروان چاپ و به نشر رسید

انتشارات کتب بیهقی به تازه‌گی کتاب آسیب‌شناسی در برابر حوادث طبیعی ولایت پروان را که به قلم محترم انجنیر جلال الدین جمالی، کارشناس وقایه و کاهش خطرات و اثرات حوادث این اداره تدوین شده است، چاپ و به نشر رسانده است.

این کتاب به عنوان یک اثر علمی و کاربردی و علت آسیب پذیری در برابر حوادث طبیعی پرداخته و راهکارهایی علمی و عملی برای کاهش این آسیب‌ها ارائه می‌دهد.

شما می‌توانید این کتاب را از نتشارات کتب بیهقی و نسخه الکترونیک آن را از لینک‌زیر در وبسایت اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث بدست آورید.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث سرپل برای ۸۰ مساعدت نقدی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل با حمایت موسسه اکتید، برای ۸۰ خانواده نیازمند، بی‌سرپرست، عودت‌کننده و مستحق در ولسوالی صیاد کمک‌های نقدی توزیع کرد.

در این روند با حضور مسوولین محلی، هر خانواده ۲۲۵۶۰ افغانی دریافت کردند که مجموع این کمک‌ها به مبلغ ۱۸۰۴۸۰۰ افغانی می‌رسد.

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست ۱۵۰ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکټیډ مؤسسې په مالی ملاتړ، د کندز مرکز او د خان‌اباد ولسوالۍ ۱۵۰ مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

د یادونې وړ ده چې له دې ۱۵۰ کورنیو څخه ۱۰۰ کورنۍ د کندز مرکز او ۵۰ کورنۍ د خان‌اباد ولسوالۍ اړوند وې چې له سروې وروسته یاد شمېر کورنیو ته نغدی مرستې ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده چې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او اکټیډ مؤسسې ترمنځ د مخکې لاسلیک شوې هوکړه‌لیک له مخې، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ هرې کورنۍ ته ۲۲,۵۶۰ (۲۲ زره او ۵۶۰) افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې.

همدارنګه، راتلونکې اوونۍ به ۸۰ کورنیو ته په قلعه‌زال ولسوالۍ او ۵۰ کورنیو ته په کلباد ولسوالۍ کې نغدی مرستې ووېشل شي.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان سنگ تهداب یک دیوار استنادی را در ولسوالی دهنه غوری گذاشت

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با همکاری بنیاد آقا خان برای اسکان، به منظور حفاظت زمین‌های زراعتی و خانه‌های مسکونی از خطرات سیلاب‌ها، در ولسوالی دهنه غوری سنگ تهداب یک دیوار استنادی را گذاشت.

در این برنامه، رئیس ریاست آمادگی مبارزه با حوادث، ولسوال دهنه غوری و شماری از مسئولین محلی حضور داشتند. در جریان سخنرانی در مورد این پروژه، آنان گفتند که این پروژه برای حفاظت زمین‌های زراعتی و خانه‌های مسکونی از خطر سیلاب‌ها بسیار مهم است.

با تطبیق این پروژه، حدود ۶ هزار جریب زمین زراعتی و تعداد زیادی خانه‌ها از خطر سیلاب محافظت خواهند شد.

د بادغیس ولایت له پېښو سره د آمادګۍ ریاست ۱۰ کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې

د بادغیس ولایت له پېښو سره د آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالي ملاتړ، په جوند ولسوالۍ کې هغو ۱۰ کورنیو ته چې د غر ښوېدو له امله یې کورونه ویجاړ شوي وو، د سروې له بشپړېدو وروسته هغوی ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته یو باب خیمه، د کور د اړتیا وړ وسایل، درې تختې کمپلې، یو تخته سولر، د حفظ‌الصحې توکي او د ژمي د اړتیا وړ توکو یو کېټ ووېشل شو.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۲۱۰ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با حمایت موسسه دست به دست، برای ۲۱۰ خانواده آسیب‌دیده ناشی از خشکسالی در ولسوالی چمتال کمک‌های خوراکی توزیع نمود. گفتنی است که در این پروسه به هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۴ لیتر روغن، ۴ کیلو لوبیا و نیم کیلو نمک توزیع گردید.
قابل یاد آوریست که این خانواده‌ها کمک شده از جمله ۱۷۳۵ خانواده است که قبلآ از اثر خشکسالی در ولسوالی چمتال سروی گردیده بود برای‌شان کمک‌های خوراکی توزیع شد.

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۵۰ زیانمنو او راستانه شویو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ORCD موسسې په همکارۍ او د ملک سلمان بشردوستانه مرکز په مالي ملاتړ، د یاد ولایت مرکز جلال آباد ښار او بېلابېلو ولسوالیو اړوند د طبیعي پېښو له امله ۶۵۰ زیانمنو او راستانه شویو کډوالو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
د مرستو د وېش پر مهال د یاد ریاست رییس مولوی سیف الله خالد او د یاد مرکز استازو هم شتون درلود, چې هرې کورنۍ ته د ۲۶۵ ډالرو په ارزښت د ۲۱ قلمه توکو یوه بسته چې یوه خیمه, ۵ تختې کمپلې او د پخلنځی لپاره د اړتیا وړ ټول توکی پکې شامل وو, یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شول.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۲۰۲ خانواده آسیب دیده مساعدت خوراکی و غیر خوراکی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل با همکاری موسسه بین‌المللی GNI و با حضور ولسوال موسهی استاد جمیل و نمایندگان اداره محلی، برای ۲۰۲ خانواده آسیب دیده از حوادث طبیعی کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد.
از این کمک‌ها برای هر خانواده، یک بوری برنج ۲۵ کیلویی، یک جوره لباس مردانه و زنانه، یک جوره بوت مردانه، یک بسته صحی یونیسف با ۱۴ قلم مواد، یک بسته لباس زمستانی اطفال با ۱۶ قلم مواد، یک تخته کمپل، یک بستره چریکی و سایر اقلام ضروری توزیع شد.

د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشلې

د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, په بګرام او سیاه ګرد ولسوالیو او د پروان مرکز اړوند هغو ۶ کورنیو ته چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته یاد شمېر کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکی مرستې وویشلې.
په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، د ۱۸ قلمه توکو یوه د ژمنی جامو بسته، ۲ پلاستیکی سطلونه، درې تختې کمپلې، د لوښو یو کېټ، د ۲۰ لیټره اوبو 3 بوشکې او د ماشومانو د جامو یوه البسه وویشل شوه.

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۲۵۰ کډوالو او زیانمنو کورنیو سره غیر خوراکی مرستې وکړې

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ORCDG موسسې په همکارۍ او د ملک سلمان بشردوستانه مرکز په مالی ملاتړ، د یاد ولایت قرغیو، الینګار، علیشنګ او دولت شاه ولسوالیو او مرکز مهتړلام اړوند ۲۵۰ کډوالو او زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې د لغمان والي محترم مولوی اختر محمد مزمل، د یاد ریاست رییس قاری خیر محمد غازی او د موسسې د استازی په شتون کې هرې کورنۍ ته د ۲۵۶ ډالرو په ارزښت یوه خیمه، ۵ تختې کمپلې او د پخلنځی د اړتیا وړ توکی وویشل شول.

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۲ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې وویشلې

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC موسسې په همکارۍ، په جلریز ولسوالۍ کې د تېرو سېلابونو له امله ۸۲ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې د یاد ریاست رییس مولوی فیض الله جلالی او د موسسې د استازی په شتون کې هرې کورنۍ ته د حفظ الصحې یو کېټ وویشل شو.

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۶ کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, له پېښو سره د مبارزې د ولایتي کمېسیون له پرېکړې سره سم, د سپین بولدک, ژړۍ او خاکرېز ولسوالیو اړوند د ۱۰۶ شهیدانو او معلولینو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه, ۲۵ کیلو وریجې, ۵ لیټره غوړي, ۵ تختې کمپلې او همداراز ۶ هغو کورنیو ته چې د تېرو سېلابونو او اورلګېدو له امله زیانمنې شوې وې, هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه, ۲۵ کیلو وریجې, ۵ لیټره غوړي, ۶ تختې کمپلې, ۵ ژمنۍ البسې, ۲ جوړه څپلکې او ۱ پلاستیکي سطل ووېشل شو.

د یادونې وړ ده چې زیانمنو او معلولینو له دې مرستو خوښي څرګنده کړه او له خیریه بنسټونو وغوښتل چې د ژمي په فصل کې له هغوی سره نورې مرستې هم وکړي.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ننگرهار برای ۱۸۱ خانواده نیازمند کمک نقدی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار، با حمایت مالی موسسه IRC، برای ۱۸۱ خانواده نیازمند در شهر جلال‌آباد مرکز آن ولایت، پس از سروی، کمک‌های نقدی جهت خرید مواد خوراکی توزیع کرد.

در پروسه توزیع این کمک‌ها، با حضور رئیس آن ریاست، مولوی سیف‌الله خالد و نماینده موسسه، به هر خانواده به عنوان قسط سوم، مبلغ ۲۷۰۰ افغانی پرداخت شد. در مجموع، مبلغ ۴۸۸۷۰۰ (چهارصد و هشتاد و هشت هزار و هفتصد) افغانی میان این خانواده‌ها توزیع گردید.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۲۴ زیانمنو اومستحقو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ژغورنې نړیوالې کمېټې (IRC) په مالي ملاتړ، د کابل ښار د څلورمې او اوولسمې ناحیې اړوند ۲۲۴ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې پړاو کې، هرې کورنۍ ته د ۴۰ ډالرو معادل ۲۷۰۰ افغانۍ ورکړل شوې. دغه مرستې د یوه داسې پروګرام برخه ده چې له مخې به یې په اته قسطونو کې هرې کورنۍ ته په مجموعي ډول ۳۲۰ امریکایي ډالر ووېشل شي.

یادې مرستې د مستحقینو د خوښۍ لامل ګرځېدلې، او هغوی د امارتي او د موسسو د مسؤلینو د بریالیتوب لپاره دعاوې وکړې.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار برای ۳۱۸ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های نقدی توزیع نمود

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار با حمایت موسسه اسلامیک ریلیف، برای ۳۱۸ خانواده که از اثر حوادث طبیعی و غیرطبیعی در ولسوالی کلفگان آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی مساعدت نقدی توزیع کرد.

در این پروسه به هر خانواده مبلغ ۱۰,۹۸۰ (۱۰ هزارو ۹۸۰) افغانی اختصاص یافته بود که در مجموع مبلغ ۳,۴۹۱,۶۴۰ (۳ میلیونو ۴۹۱ هزارو ۶۴۰) افغانی پول نقد برای آنان توزیع گردید.

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۷ شهیدانو ورثه ته نغدی مرستې ووېشلې

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, په مرکز فیض آباد او ارګو ولسوالۍ کې د طبیعی پېښو له امله د۷ شهیدانو وارثینو ته نغدی مرستې ووېشلې.

دا مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رئیس مولوی محمد اکرم اکبری, د ولایت مقام استازی، قاری محبوب‌الله انصار او د استخباراتو ریاست استازی مولوی ذبیح‌الله په شتون کې ترسره شوې. له یادو شهیدانو څخه ۵ تنه د مرکز او ۲ تنه د ارګو ولسوالۍاوسېدونکی وو، چې په ۱۴۰۳ کال کې د طبیعی پېښو له امله شهیدان شوی وو.

د هر شهید وارث ته ۴۰,۰۰۰ (څلوېښت زره) افغانۍ ووېشل شوې، چې په مجموع کې ۲۸۰,۰۰۰(دوه سوه اتیا زره) افغانۍ کېږی.

د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۰۰مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په آسیا کې د نړۍ ټولنیزو خدماتو موسسې (CWSA) په ملاتړ د یکاولنګ نمبر ۲ ولسوالۍ ۹۰۰ زیانمنو او اړمنو کورنیو لپاره د ژمنیو نغدی مرستو لومړۍ پړاو پیل کړ.

دغه مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د CWSA موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې، د سیمه ییزو چارواکو او د امنیتی ادارو د مسؤلینو په شتون کې د یکاولنګ نمبر ۲ ولسوالۍ په مرکز کې وویشل شوې او هرې کورنۍ ته ۲,۸۰۴ افغانۍ او په مجموع کې ۲,۵۲۳,۶۰۰ (۲ میلیونه ۵۲۳ زره او ۶۰۰) افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې.

د دې هوکړه لیک پر بنسټ به یادې کورنۍ په راتلونکو څلورو میاشتو کې هم د دې موسسې له ژمنیو نغدی مرستو څخه‌برخه منې شی.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د چهارآسیاب ولسوالۍ ۲۰۵ هغو کورنیو ته چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د یاد ریاست رییس محترم مولوی نجیب الله انوری په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۵ کیلو وریجې، یو روغتیایي کیټ، یوه تخته چیرکي بستره، یوه جوړه ښځینه جامې، یوه جوړه نارینه جامې او یوه جوړه نارینه بوټونه ووېشل شول.

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۳۲ کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ARWEO موسسې په مالي ملاتړ، د یاد ولایت په چهار دره ولسوالۍ کې ۱۵۳۲ مستحقو کورنیو ته د دویم او دریېم پړاو نغدې مرستې ووېشلې.
دغه مرستې، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د یادې موسسې ترمنځ د یوې تفاهم نامې له مخې برابرې شوې وې، هرې کورنۍ ته ۵۶۰۰ افغانۍ ورکړل شوې.
د یادونې وړ ده، چې د دې مرستو لومړی پړاو مخکې وېشل شوی و او وروستی پړاو به یې په راتلونکې کې ترسره شي.

ریاست آماده‌گی مبارزه با حوادث بدخشان مبلغ ۳,۶۰۹,۶۰۰ افغانی را برای ۱۶۰ خانواده متضرر توزیع کرد

ریاست آماده‌گی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان، با حمایت مؤسسه اکتید، برای تعداد ۱۶۰ خانواده آسیب‌دیده از اثر حوادث طبیعی و عودت کننده در ولسوالی ارگو و مرکز شهر فیض‌آباد، پس از انجام روند سروی، کمک‌های نقدی توزیع کرد.
در این روند که با حضور مسئولین محلی انجام شد، به هر خانواده مبلغ ۲۲،۵۶۰ افغانی (بیست‌ودو هزار و پنجصد و شصت افغانی) پرداخت گردید که در مجموع مبلغ ۳,۶۰۹,۶۰۰ افغانی (سه میلیون و شش‌صد و نه هزار و شش‌صد افغانی) به این خانواده‌ها اختصاص یافت.
قابل یادآوری است که این کمک‌ها به هدف خریداری لباس زمستانی، مواد سوخت و رفع دیگر نیازهای اساسی خانواده‌های متضرر در نظر گرفته شده بود.

د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱۹۶ زیانمنو کورنیو سره نغدی مرستې وکړې

د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اسلامی هوساینې مؤسیسې په مالی همکارۍ, د یاد ولایت په رستاق ولسوالۍ کې د طبیعی پېښو له امله ۱۹۶ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته د یاد ریاست او موسسې د استازو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰,۹۸۰ (لس زره نه سوه او اتیا) افغانۍ او په مجموع کې2,152,080 (دوه میلیونه یو سل او دوه پنځوس زره او اتیا)افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې.

ورته مهال له مرستو برخه منو د یاد ریاست او موسسې څخه د مرستو په پار مننه او خوښی څرګنده کړه او د مرستو د زیاتېدو غوښتنه یې وکړه.

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱۳ زیانمنو کورنیو سره غیرخوراکی مرستې وکړې

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC موسسې په مالی ملاتړ، د میدان ښار په بسراق سیمه کې هغو ۱۳ زیانمنو کورنیو ته چې کورونه یې د تېرو سېلابونو له امله زیانمن شوی وو، غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د یاد ریاست رییس مولوی فیض الله جلالی او د موسسې د استازی په شتون کې، یو حفظ الصحې کېټ چې دوه د اوبو بوشکې، یو د اوبو سطل، شامپو، دلاس مینځلو صابون، د کالو مینځلو صابون، د غاښونو کریم، برس او لاس پاکونه پکې شامل وو، یاد شمېر هرې کورنۍ ته ووېشل شو.

ورته مهال مولوی فیض الله جلالی د مرستو د وېش پر مهال وویل چې دا مرستې بسنه نه کوی او د افغانستان اسلامی امارت تل هڅې کوې چې د خپلو زیانمنو هیوادوالو لپاره د لا زیاتو مرستو زمینه برابره کړی.

ریاست آماده‌گی مبارزه با حوادث کندز مبلغ ۲،۹۳۲،۸۰۰ افغانی را برای ۱۳۰ خانواده مستحق توزیع کرد

ریاست آماده‌گی مبارزه با حوادث ولایت کندز، با همکاری مالی مؤسسه اکتید، برای تعداد ۱۳۰ خانواده مستحق در ولسوالی‌های قلعه‌زال و کلباد پس از انجام روند بررسی و تثبیت، کمک‌های نقدی توزیع کرد.

در این روند، که با حضور نمایندگان آن ریاست و مؤسسه انجام شد، به هر خانواده مبلغ ۲۲،۵۶۰ افغانی (بیست‌ودو هزار و پنج‌صد و شصت افغانی) پرداخت گردید که در مجموع مبلغ ۲،۹۳۲،۸۰۰ افغانی (دو میلیون، نه‌صد و سی‌ودو هزار و هشت‌صد افغانی) به خانواده‌های یادشده توزیع شد.

د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵،۴۱۴،۴۰۰ افغانۍ ۲۴۰ سېلاب ځپلو کورنیو ته وویشلې

د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکتیډ موسسې په مالی ملاتړ، په دهنه غوری او دوشی ولسوالیو او مرکز پلخمری کې د تېرو سېلابونو له امله ۲۴۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې وویشلې.

د مرستو د وېش په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۲،۵۶۰ (۲۲ زره او ۵۶۰)افغانۍ او په مجموع کې ۵،۴۱۴،۴۰۰ (۵ میلیونه، ۴۱۴ زره او ۴۰۰ افغانۍ) یاد شمېر کورنیو ته وویشل شوې.

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۲ کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې په مالی ملاتړ، د یاد ولایت مرکز جلال آباد ښار اړوند ۱۰۲ بېوزله کورنیو ته د خوراکی توکو پېرلو لپاره نغدی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د درېیم قسط ۲۷۰۰ افغانۍ او په مجموع کې ۲۷۵،۴۰۰ (۲۷۵ زره او ۴۰۰) افغانۍ وویشل شوې.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۹ کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې په مالی ملاتړ، ۲۰۹ کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې وویشلې.

د یادونې وړ ده چې نغدی مرستو دا درېیم پړاو و چې هرې کورنۍ ته ۲۷۰۰ افغانۍ او په مجموع کې ۵۶۴،۳۰۰ (۵۶۴ زره او ۳۰۰) افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته وویشل شوې.

د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۲۸ شهیدانو ورثه ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د محترم مقام په لارښوونه د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د طبیعي پېښو له امله د ۲۸ شهیدانو ورثه ته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د یاد ریاست رییس مولوی نثار احمد نجات او سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې د هر شهید کورنۍ ته 40,000 افغانۍ او په مجموع کې 1,120,000 افغانۍ نغدي پیسې د یاد شمېر شهیدانو کورنیو ته ووېشل شوې.

د فارياب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

د فارياب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکتيډ موسسې په مالي ملاتړ، په دولت آباد ولسوالۍ کې د سېلابونو له امله ۵۰ زیانمنو او راستانه شویو کورنیو ته چې سروې یې مخکې ترسره شوې وه، نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۲،۵۶۰ افغانۍ او په مجموع کې ۱،۱۲۸،۰۰۰ (۱ میلیون او ۱۲۸ زره) افغانۍ نغدي پیسې یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۸۱ زیانمنونکو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ورلډویژن موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، یادې موسسې د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ په مقر او سنګ آتش ولسوالیو کې ۴۸۱ زیانمنونکو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵،۸۴۶ افغانۍ او په مجموع کې ۲،۸۱۱،۹۲۶ (۲ میلیونه ۸۱۱ زره او ۹۲۶) افغانۍ نغدي پیسې یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۲۶ کورنیو سره خوراکي مرستې وکړې

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د طبیعي او غیرطبیعي پېښو له امله ۲۶ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
د یادونې وړ ده چې په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.

د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۰ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشل

د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکتېډ موسسې په مالي ملاتړ، ۸۰ کورنیو ته چې د طبیعي او غیر طبیعي پېښو له امله د دې ولایت په اشکمش ولسوالۍ کې زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته نغدي مرستې ووېشلې.
په دغه لړۍ کې، د هرې کورنۍ لپاره ۲۲,۵۶۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې چې په مجموع کې ۱,۸۰۴,۸۰۰ (۱ میلیون، ۸۰۴ زره او ۸۰۰ افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳ کورنیو ته د کورونو د ترمیم لپاره نغدي مرستې ووېشلې

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC موسسې په مالي ملاتړ، ۲۳ کورنیو ته چې کورونه یې د یاد ولایت په جلرېز ولسوالۍ کې د تېرو سېلابونو له امله زیانمن شوي وو د کورونو د ترمیم لپاره نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د یاد ریاست رییس مولوی فیض الله جلالي او د موسسې استازی په شتون کې هرې کورنۍ ته له ۱۶،۰۰۰ نه تر ۱۸،۰۰۰ افغانۍ او په مجموع کې ۳۹۹،۸۵۰ (۳۹۹ زره او ۸۵۰) افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست ۶۰ بېوزله او کډوالو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې

د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC موسسې په مالی ملاتړ، ۶۰ بېوزله او کډوالو کورنیو ته له سروې وروسته نغدې مرستې ووېشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۱۳،۸۰۰ افغانۍ او په مجموع کې ۸۲۸،۰۰۰ (۸۲۸ زره) افغانۍ نغدې پیسې یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۲ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کنسرن موسسې په مالی ملاتړ، د یاد ولایت په امام صاحب ولسوالۍ کې د زلزلې له امله ۳۲ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې.
د یادونې وړ ده چې په دې لړۍ کې، د هرې کورنۍ لپاره ۲۱۰۸۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې، چې په مجموع کې یادو کورنیو ته ۶۷۴۵۶۰ (۶۷۴ زره او ۵۶۰) افغانۍ ووېشل شوې.

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۹ کورنیو ته غیر خوراکی مرستې ووېشلې

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC موسسې په مالی ملاتړ، د سیدآباد ولسوالۍ‌په تنګۍ او شنیز سیمو کې د تېرو سېلابونو له امله ۶۹ زیانمنو کورنیو ته غیر خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته یو روغتیایی کېټ چې دوه د اوبو بوشکې، یو د اوبو سطل، شامپو، د لاس او جامو مینځلو صابون، د غاښونو کریم، د غاښونو برس او دستمالونه پکې شامل وو, یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شول.
د یاد ریاست رییس، مولوی فیض الله جلالی وویل چې دا مرستې بسنه نه کوي او د افغانستان اسلامی امارت د خپلو بېوزله هېوادوالو ملاتړ ته ژمن دی او تل په دې هڅه کې دی, چې د خپلو هېوادوالو لپاره د لا زیاتو مرستو زمینه برابره کړي.

د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۰ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکتیډ موسسې په مالي ملاتړ، په بلچراغ ولسوالۍ کې د سېلابونو له امله ۸۰ زیانمنو او راستانه شویو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ‌ته ۲۲۵۶۰ افغانۍ او په مجموع کې ۱۸۰۴۸۰۰ (۱ میلیون ۸۰۴ زره او ۸۰۰) افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

د افغانستان د ماین پاکۍ په پروګرام کې د راپور ورکولو د نوی میتود په اړه ورکشاپ ترسره شو

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ‌ریاست، د تخنیکی ملاتړ د دفتر او د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ خدمتونو د دفتر په همکارۍ، د راپور ورکولو د نوی میتود په اړه ورکشاپ د دې ریاست په انګړ کې ترسره کړ.
دا ورکشاپ د راپورونو د دقت، ثبات او کیفیت ښه کولو او د راپور ورکولو د دندو په مدیریت کې د کارکوونکو وړتیا لوړولو په موخه ترسره شو.
د ورکشاپ ګډونوالو د نویو میتودونو په زده کولو سره د ماین پاکۍ په برخه کې په ښه توګه د خپل کار ترسره کولو لپاره چمتو شول.

د پنجشیر ولایت اړوند کورابه کلي کې د سیند د لارې چِکړې له پاکولو وروسته د سېلابونو خطر کمښت پیدا کړ

د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت مقام په همکارۍ، د پنجشیر د سیند چکړې د شتل ولسوالۍ په قول کورابه کلی کې پاکې کړې دی، چې له امله یې د سیند د اوبو د لوړېدو مخنیوی او احتمالی سېلابونو خطر کم شوی دی.
یاده سیمه د سېلابی موادو د راټولېدو له امله د پنجشیر د سیند د اوبو کچې لوړېدو له احتمالی ګواښ سره مخ وه، چې په بېړنی ډول د ایسکواټور په وسیله دغه چکړې پاکې شوې او د سیمې د خلکو کرنیزې ځمکې او یو کیبلی پُل په لنډمهال ډول د یاد سیند د احتمالی ګواښونو څخه خوندی پاتې شول.

د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۰ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکتېډ موسسې په مالی ملاتړ، ۸۰ کورنیو ته چې د طبیعی او غیر طبیعی پېښو له امله د دې ولایت په چاه آب ولسوالی کې زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې د هرې کورنۍ لپاره ۲۲,۵۶۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې چې په مجموع کې ۱,۸۰۴,۸۰۰ (۱ میلیون، ۸۰۴ زره او ۸۰۰) افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

ورته مهال له مرستو برخه منو د مرستو په پار د یاد ریاست او د موسسې له مسؤلینو مننه وکړه او د مرستو د زیاتېدو غوښتنه یې وکړه

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۳۲مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ARWEP موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت په دشت ارچی ولسوالی کې ۱۵۳۲ مستحقو کورنیو ته د نغدی مرستو د وېش لړۍ پیل کړه.

دا شمېر کورنۍ چې سروې یې د دې ریاست په همغږۍ ترسره شوې وه، نن ورځ یې د دوهم او دریم پړاو مرستې ترلاسه کړې.

په دې پروسه کې، د هرې مستحقې کورنۍ لپاره ۵۶۰۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې، چې په مجموع کې ۸،۵۷۹،۲۰۰ (۸ میلیونه ۵۷۹ زره او ۲۰۰) افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

د مرستو د وېش دا لړۍ به دوه ورځې دوام ولری، همدارنګه د یادونې وړ چې د مرستو څلورم پړاو او وروستی پړاو به یې په راتلونکو میاشتو کې ووېشل شی.

د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۲۶ شهیدانو ورثه ته نغدی مرستې ووېشلې

د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۲۶ کورنیو ته چې د کورنۍ غړی یې د طبیعی پېښو له امله شهیدان شوې وو، له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړ کې د هر شهید کورنۍ ته ۴۰۰۰۰ افغانۍ او په مجموع کې ۱،۰۴۰،۰۰۰(۱ ملیون او ۴۰۰۰۰) افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵۰ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې په مالی ملاتړ، د کابل ولایت په ٤ او ۱۷ ناحیه کې ۲۵۰ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د هرې کورنۍ لپاره د دریم پړاو ۲۷۰۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې، چې په مجموع کې ۶۷۵،۰۰۰ (۶۷۵ زره) افغانۍ یاد شمېر کورنیو ووېشل شوې.
د یادونې وړ ده چې دا مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د IRC موسسې ترمنځ د اسلامی امارت د قوانینو په چوکاټ کې د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې ترسره شوې. چې په مجموع کې هرې کورنۍ ته به ۳۲۰ ډالر او یاهم د هغه معادل افغانۍ په ۸ پړاوونو کې ووېشل شي.
د مرستو ترلاسه کوونکو له یادې موسسې او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه مننه او خوښی څرګنده کړه او د اسلامی امارت نظام د بقا لپاره یې دعا وکړه.

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت ۷ کورنیو ته نن ورځ چې سروې یې مخکې ترسره شوې وه، خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کډوالو چارو ریاست د استازو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو ګرامه اوړه، ۲۵ کیلو ګرامه وریجې، ۲ جوړه چپلکې، ۱ بوشکه ۵ لېتره غوړی، ٦ کمپلې او ٥ ژمنی البسې ووېشل شوې.
د یادونې وړ ده، چې له زیانمنو کورنیو څخه یې ٥ کورنۍ د اورلګېدو له امله زیانمنې شوې وې او ۲ نورې کورنۍ د شهیدانو له کورنیو څخه وې.

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکټیډ موسسې په مالی ملاتړ، د زلزلې له امله سلو زیانمنو ۱۰۰ کورنیو ته په مرکز فیض آباد او یفتل ولسوالۍکې د کورونو د ترمیم په پار د درېیم پړاو نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د هرې زیانمنې کورنۍ لپاره ۳،۷۵۰ (۳زره او۷۵۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې او په مجموع کې ۳۷۵،۰۰۰ (۳۷۵ زره) افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د اقتصاد ریاست او د موسسې د استازو په شتون کې ووېشل شوې.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۱۰۰ خانواده بی‌بضاعت مواد خوراکی توزیع نمود

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با حمایت مالی مؤسسه OASE، برای ۱۰۰ خانواده بی‌بضاعت کمک‌های خوراکی توزیع کرد.
در این پروسه به هر خانواده ۸ قلم مواد خوراکی شامل؛ ۵۰ کیلو آرد، ۲۴ کیلو برنج، ۱۰ کیلو لوبیا، ۱۰ لیتر روغن، ۷ کیلو شکر، ۲ کیلو رب، ۱ کیلو چای‌خشک و ۵ کیلو مکرونی توزیع گردید.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان برای ۴۰۰ خانواده آسیب‌دیده مواد خوراکی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان، برای ۴۰۰ خانواده که از اثر سیلاب‌ها در ولسوالی‌های بگرام، سالنگ و مرکز پروان آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی کمک‌های خوراکی توزیع نمود.
باید گفت که در این پروسه به هر خانواده یک بوری آرد ۵۰ کیلویی و یک بوری برنج ۲۵ کیلویی در حضور رئیس آمادگی مبارزه با حوادث و نمایندگان مقام ولایت و ریاست مهاجرین و عودت کننده‌گان توزیع گردید.

د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۱۷ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې په مالي ملاتړ، ۲۱۷ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.
د یادونې وړ ده، د مرستو په دې لړۍ کې د هرې کورنۍ لپاره، ۲۷۰۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې چې د یادو مرستو درېیم پړاو و او په مجموع کې ۵۸۵,۹۰۰ (۵۸۵ زره او ۹۰۰) افغانۍ ووېشل شوې.

د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ۴۰۲۷۲۵۰ افغانۍ ۱۱۶ کورنیو او کاریګرو ته ووېشلې

د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DRC موسسې په مالی ملاتړ, د یاد ولایت په اچین او کوزکونړ ولسوالیو کې ۶۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د کورونو د ترمیم لپاره نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ‌ته په بېلابېلو کټګوریو کې د لومړی قسط له ۵۱۳۵۰ نه تر ۶۷۵۰۰ افغانۍ او په مجموع کې ۳۶۸۱۶۵۰ (۳ میلیونه ۵۸۱ زره او ۶۵۰) افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.
همدارنګه د یاد ولایت په حصارک ولسوالۍ‌کې د کار په بدل کې پیسې د پروژې په ترڅ کې ۵۶ کاریګرو ته نغدی پیسې ووېشل شوې.
په دې لړۍ کې یاد شمېر کاریګرو ۲۳ ورځې کار ترسره کړ او د هر کاریګر لپاره د یوې ورځې کار په بدل کې له ۳۵۰ نه تر ۷۰۰ افغانۍ په پام کې نیول شوې وې چې په مجموع کې ۴۴۵۶۰۰ (۴۴۵ زره او ۶۰۰) افغانۍ یاد شمېر کاریګرو ته ووېشل شوې.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار برای ۸۰ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار با حمایت مالی مؤسسه اکتید، برای ۸۰ خانواده آسیب‌دیده ناشی از حوادث طبیعی و غیرطبیعی در ولسوالی ینگی‌قلعه، بعد از سروی مساعدت نقدی توزیع نمود.
در این پروسه در حضور مسوولان به هر خانواده مبلغ ۲۲,۵۶۰ افغانی توزیع شد و در مجموع مبلغ ۱,۸۰۴,۸۰۰ افغانی برای آنان اختصاص یافته بود.
در اخیر دریافت کننده‌گان ضمن ابراز قدردانی و تشکری از ریاست و موسسه متذکره، خواهان ادامه این چنین کمک‌ها شدند.

د کابل ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷۰ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې

د کابل ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت په ۳ او ٤ ناحیه کې ۱۷۰ زیانمنو کورنیو ته چې سروې یې مخکې ترسره شوې وه، یادو کورنیو ته د خوراکی توکو او د ژمنيو جامو برابرولو لپاره نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۷۰۰ افغانۍ ووېشل شوې او دا مرستې له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د یادې موسسې تر منځ د یو هوکړه لیک له مخې تر سره شوې او د دې هوکړه لیک له مخې به یادو کورنیو ته ۳۲۰ امریکایی ډالر او یاهم د هغه معادل افغانۍ په ۸ پړاوونو کې ووېشل شی.
ورته مهال د مرستو ترلاسه کوونکو له یاد ریاست او موسسې څخه مننه وکړه او د اسلامی نظام د بقا لپاره یې دعا وکړه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث بامیان برای ۱۱۰۰ خانواده مستحص مساعدت نقدی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت موسسه خدمات اجتماعی جهان در آسیا(CWSA)، برای ۱۱۰۰ خانواده آسیب پذیر و نیازمند در ولسوالی یکاولنگ، طی دو روز گذشته مساعدت نقدی زمستانی توزیع کرد.

این کمک‌ها که مرحله اول آن بود، بر اساس تفاهم‌نامه میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه CWSA، صورت گرفت، طوریکه برای هر خانواده مبلغ ۲۸۰۴ افغانی دریافت در نظر گرفته شده بود که در مجموع مبلغ ۳،۰۸۴،۴۰۰ افغانی میان این خانواده‌ها توزیع شد. قابل ذکر است که این خانواده‌ها طی چهار ماه آینده نیز تحت پوشش کمک‌های نقدی زمستانی موسسه مذکور قرار خواهند گرفت.

د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱٦۷ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې و وېشلې

د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د IRC مؤسیسې په مالي ملاتړ، نن ورځ پنجشنبه د دربم پړاو نغدی مرستې ۱٦۷ کورنیو ته د یاد ریاست د مسؤلینو په شتون کې و وېشل شوې.

د مرستو په دې لړۍ کې د هرې کورنۍ لپاره ۲۷۰۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې په ټو له کې دوی ته ٤٥٠٩٠٠ (٤ لکه، ٥٠ زره او ۹۰۰) افغانۍ و وېشل شوې.

د یادونې وړ ده، چې دا مرستې له دوی سره د خوراکی اړ تیاوو د پوره کولو لپاره تر سره شوې.

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۹۰ زیانمنو کورنیو ته ۱۰،۹۰۳،۳۰۰ افغانۍ وووېشلې

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د DRC موسسې په مالي ملاتړ، د طبیعی پېښو له امله زیانمنو ۱۹۰ کورنیو ته د هغوی د کورونو د ترمیم په موخه د نغدو پیسو مرستې وووېشلې.

په دې بهیر کې د ۱۹۰ کورنیو څخه ٦۰ کورنیو د هرې یوې لپاره ۱۲۰،۲۴۳ افغانۍ او ۱۳۰ کورنیو د هرې یوې لپاره ۲۸،۳۷۴ افغانۍ ځانګړې شوې وې، چې ټولټال د ۱۰،۹۰۳،۳۰۰ (۱۰ میلیونه، ۹۰۳ زره او ۳۰۰) افغانۍ نغدی مرستې یاد شمېر کورنیو ته وووېشل شوې.

د یادونې وړ ده چې دا مرستې د کورونو د ترمیم لپاره په دوو قسطونو کې او د هغو کورونو لپاره چې نوی جوړېږی په درېو قسطونو کې د ریاست د مسوولینو په شتون کې وېشل کېږی.

د باميانو ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ٤٨٣ زيانمنو کورنيو ته خوراکی او غير خوراکی مرستې و وېشلې

د باميانو ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست، ٤٨٣ کورنيو ته چې د طبعی پېښو له امله د دې ولايت په يکاولنګ ٢ او پنجاب ولسواليو کې زيانمنې شوې وې، وروسته له سروې څخه خوراکی او غير خوراکی مرستې و وېشلې.

بايد وويل شی چې د مرستو په دغه لړۍ کې، هرې کورنۍ ته ٥٠ کيلو اوړه، ٢٥ کيلو وريجې او يوه بسته روغتيايی کيټ سربېره پر دې تو کو په يکاولنګ ٢ ولسوالی کې ٣٠ کورنيو ته غنم او په پنجاب ولسوالی کې ٣٣٣ کورنيو ته البسې و وېشل شوې.

نصب لوحه‌های هشدار در شاهراه فیض‌آباد-بهارک جهت کاهش حوادث ترافیکی و طبیعی

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان با همکاری دفتر آقاخان برای اسکان (AKAH) اقدام به نصب چندین لوحه هشداردهنده ترافیکی و سنگ‌چرخ در مسیر شاهراه فیض‌آباد-بهارک کرده است.

این لوحه‌ها با هدف افزایش آگاهی و ارایه هشدار مردم درباره خطرات طبیعی، از جمله سقوط سنگ‌ها و وضعیت ترافیکی این مسیر پرتردد، نصب شده‌اند.

این اقدام پس از وقوع حوادث اخیر در این شاهراه، که منجر به تلفات انسانی شد، مورد استقبال مردم قرار گرفته است.

د پکتيا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۴،۶۳۳،۲۰۰ افغانۍ ۵۷۲ زيانمنو او اړمنو کورنيو ته ووېشلې

د پکتيا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د IRC موسسې او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري ترمنځ د هوکړه ليک له مخې او د يادې موسسې په مالی ملاتړ، ۵۷۲ زيانمنو او اړمنو کورنيو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۸۱۰۰ افغانۍ او په مجموع کې ۴۶۳۳۲۰۰ (۴ ميليونه ۶۳۳ زره او ۲۰۰) افغانۍ ياد شمېر کورنيو ته ووېشل شوې, همدارنګه په دې پروګرام کې به يادو کورنيو ته په شو پراوونو کې د ۳۲۰ ډالرو معادل افغانۍ ووېشل شی.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۸۱۹ خانواده بی‌بضاعت مساعدت نقدی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت مالی مؤسسه ARADA، برای ۸۱۰ خانواده بی‌بضاعت در ولسوالی گوشتی مساعدت نقدی توزیع نمود.
باید گفت که این قسط اول کمک بوده که به هر خانواده مبلغ ۲۸۱۰ افغانی اختصاص یافته بود که در مجموع مبلغ ۲,۳۰۱,۳۹۰ (۲ میلیونو ۳۰۱ هزارو ۳۹۰) افغانی برای آنان توزیع گردید.
گفتنی است این کمک با حضور مسئولین ریاست به منظور حمایت خانواده های آسیب دیده از خشکسالی انجام شده است.

پیام ما:

اقدامات ضروری در هنگام آتش سوزی

۱ محیط آتش سوزی را به سرعت ترک نمایید
۲ اگر شرایط امن است به دیگران کمک کنید
۳ زنگ خطر را به صدا در بیاورید
۴ هر چی عاجل به اطفائیه تماس بگیرید